مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۶/۰۲/ ۲۴

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یو سل او څلور ویشتمه برخه)



(پروفیسور اسراییل شاهاک)

**پر امریکا او اسراییلو د یوهانو او منتقدینو نیوکې (۲)**

**پروفیسور اسراییل شاهاک(۱۹۳۳ـ۲۰۰۱ز)**

په اسراییلو کې د بشري حقونو اداري رییس، یهودتوکمه پروفیسور اسراییل شاهاک، د غیریهودانو، په ځانګړي توګه د فلسطیني عربو پر وړاندې، د اسراییلي صهیونستانو د ناانساني کړنو او تېریو په اړه ډېرې څرګندونې کړي چې په تړاو يې کتابونه او لیکنې لیکلي او ژباړلي يې کړي دي چې تر ټولو مهم کتاب يې **(د یهودو دین او تاریخ: درې زره کلن پېټی**[1]**)** په نوم لیکلی دی.
استاد اسراییل شاهاک (د یهودو به اصطلاح) د هولوکاست له پاتې شونو څخه یو، یهودتوکمه کس ؤ، په لومړیو کې شاهاک ته د اسراییلو دین او اعمال په حقه ښکاره کېدل خو کله چې هغه د اسراییلي صهیونستانو جنایتونه او نورې کړنې، د فلسطیني عربو پر وړاندې ولیدلې او هغه يې د یهودي خاخامانو له خرافي فتواګانو سره پرتله کړې نو د

[1]: Jewish History, Jewish Religion: The Weight of Three Thousand Years


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

صهيونستانو د ناوړه کړنو پر وړاندې يې خپل درېځ بدل کړ، هغه وايي چې **«پخوا له جګړې، زما لپاره اسراييل له هر څه نه مهم وو خو نن په دې عقيده يم چې زه په خطا لاره روان وم.»**[2]

اسراييل شاهاک په خپل کتاب**(د يهودو دين او تاريخ:...)** کې پر يهودو او اسراييلي صهيونستان ډېرې سختې نيوکې کړې او د يهودي خاخامانو خرافي فتواګانې يې رسوا کړې دي.

پروفيسور شاهاک ليکي چې **اسراييلي خاخامان ټول عرب‌توکمه وګړي په فلسطين کې د پخواني (عماليقه) قوم په څېر بولي چې بايد د عماليقه په شان له يوه سره ووژل شي.**[3]

هغه، د اسراييلي خاخامانو هغه فتواګانې چې د جګړې په ډګر کې د بې‌وسلې غيريهودانو وژل جايز، حتا اجباري دي، يادونه کوي او دا چې غيريهودان حيوانات بلل شوي او د داسې نورو ناوړه فتواوو پر وړاندې استاد شاهاک سخت غبرګونونه ښودلي او د دا ډول احمقانه فتواګانو په ځواب کې يې منطقي او وړ غبرګونونه ښکاره کړي دي.

استاد اسراييل شاهاک هغه مهال د يهودو د منتقد په توګه مشهور شو چې په اورشليم ښار کې د يو اسراييلي وګړي او يو ناروغ غيريهودي (فلسطيني) تر منځ د يوې پېښې شاهد ؤ، هغه ليکي چې «زما سياسي فعاليتونه په ۱۹۶۵-۱۹۶۶ز، کلونو کې له يوې نيوکې پيل او په يوه ځانګړي رسوايي او جنجال واوښتل. **ما په اورشليم کې په خپلو سترګو وليدل چې يو افراطي مذهبي يهودي اجازه رانه کړه چې د سبَت**[4] **(شنبې) په ورځ د هغه له ټيلفون څخه د يو غيريهودي ناروغ لپاره (چې سکته يې کړې وه او په اورشليم کې د هغه په ګاونډ کې استوګن ؤ) امبولانس ته زنګ ووهم.** زه د دې پر ځای چې په عادي توګه پېښه د مطبوعاتو له لارې خپره کړم، په اورشليم کې مې له خاخامي محکمې څخه د ملاقات غوښتنه وکړه (چې دغه محکمه د ربيانو (خاخامانو) څخه جوړه او د اسراييلو د دولت له‌خوا ګومارل شوي وه) ما له هغوی پوښتنه وکړه چې دا ډول چلند، ستاسو په تفسير، د يهودي دين سره سمون لري؟

ځواب يې راکړ:**«هغه يهودي سم او د يو مومن کار کړی دی.»**

شاهاک زياتوي: هغوی د خپلې فتوا د دفاع په موخه د تلمود د قوانينو يو پاراګراف ته (چې زموږ په پېړۍ کې ليکل شوی ؤ) متوجه کړم. ما هم دغه پېښه د عبري ژبې مهمې ورځپاڼې **(ها آرتص)** کې خپره کړه چې د هغې خپرول په رسنيو کې رسوايي رامنځ ته کړه.»[5]

د يهودي خاخامانو فتواوې چې د غيريهودانو په اړه يې د **تلمود د (هلاخا)** کتاب پر بنسټ ليکلي، خورا ډېرې زړه بورنوونکي او زوروونکي دي، اسراييلي خاخامان خپل قوم يهودو ته غيريهودان په ډېر سپک او توهينوونکي توګه وروپېژني چې دا ډول فتواګانې استاد شاهاک په خواشينې سره په خپل کتاب کې ليکلي چې موږ يې په لنډه توګه ځينې برخې رانقلوو:

**ـ «... د دوی طبيعي [فطري] جوړښت د بې‌ژبو حيواناتو په څېر دی، دوی د بشري افرادو په څېر نه دي، بلکې د کايناتو پر مخ له انسانانو څخه ټيټ، له بېزوګانو لوړ دي ځکه چې دوی پوهه لري او چارې يې د انسانانو په څېر دي.»**

**ـ «د غيريهودانو هغه ښځه يې هم ووژنه؛ بايد د ښځه منګور (مار) ماغزه هم وپاشل شي.»**

**ـ «د جګړې پر مهال د دوی وژل (اجباري او واجب) دي.... »**

**ـ «له هغو غيريهودانو سره چې په جګړه کې نه يو [...] هغه بايد ونه وژل شي خو که هغوی له مرګ سره مخ وي، نو بايد چې ونه ژغورل شي.... »**

**ـ «... د غيريهودانو نامخامخ غولول يو روا عمل دی.»**

**ـ «کله چې يو يهودی د غيريهودانو يوه ډله ووينې نو بايد چې پر هغوي لعنت ووايي»**

---

[2]: موشه منوهين: منتقدان يهودي صهيونيسم: فارسي ژباړه: وازريک درساهاکيان.۶۶مخ

[3]: د عماليقه قوم د تولوژنې په اړه، د ليکنو ۳۸مه برخه ولولئ.

[4]: د يهودو د سَبت (شنبې) ورځې د خرافاتو په هکله د ليکنو ۵۶مه برخه ولولئ.

[5]: اسراييل شاهاک: تاريخ يهود، دين يهود، بار سنګين سه هزاره ساله. فارسي ژباړونکي: ډاکټر مجيد شريف او رضا آستانه پرست.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ

**ـ «هغه مهال چې یو متدین یهودی د غیریهودانو د مړیستنو (قبرونو) له څنګ تېرېږي بایده دي چې پر هغو مړیو لعنت ووایي.»**
**ـ «هر یهودی چې د غیریهودانو یوه لوړه ودانۍ ووینې نو له خپل خدای څخه دې وغواړي چې هغه وداني ورانه او ویجاړه کړي خو که د غیریهودانو وداني ورانه شوي وي نو د خدای شکر دې پر ځای کړي چې له هغه يې غچ اخیستی دی.»**[6]
استاد اسراییل شاهاک د یهودانو دا ډول او نورې له کرکې ډکې ډېر څرګندونی په خپل کتاب کې لیکلي دي. سربېره پر دې استاد اسراییل شاهاک د یو رښتني او روڼاندي انسان په توګه د اسراییلي صهیونست رژیم پر ناانساني کړنو نیوکې کړي او په لیکلي بڼه يې د فلسطینیانو له حقونو څخه په زړورتیا سره دفاع کړي لکه:**«د مذهبي، سیاسي او د پوهنتون مشرانو ترورو کول؛ په ټولیزه کچه د سزاګانې ورکول؛ د بېړنی دفاع مقررات چې د وګړو ځای‌پرځای نیول، بندي کول او شکنجو ته اجازه ورکوي؛ د ژوند محدودیتونه او هغه احکام چې د غیریهودیانو ځمکې مصادره کوي او د [فلسطینیانو] د کورونو ویجاړول؛ د بیان د آزادۍ او عامه سیاسي فعالیتونو ځپل؛ نابرابرې تنخواګانې او د قانوني جواز لرونکي کاري محدودیتونه؛ زده‌کړو ته د لاسرسي په برخه کې توکمیز تبعیض او له اسراییلي تابعیت څخه محروموول.»**[7]

استاد شاهاک د اسراییلو د صهیونست رژیم چلند د عربو پر وړاندې تشریح کوي وايي چې **«د یهودو تاریخ [او دین] اسراییلو داسې تفسیر کړی چې په اسراییلو کې دننه او شاوخوا، د عربو د بشري حقونو هېڅ پروا نه ساتي.»**[8]

د شاهاک په اند، صهیونیزم داسې یو رژیم دی چې جوړښت يې پر تبعیض او توکمپالنې ولاړ دی. هغه زیاتوي چې **«د اسراییلو کړنې د نازي جرمني له کړنو سره پرتله کړې او دا پرتلنه يې د منلو وړ وګرځوله.»**[9]

پروفیسور اسراییل شاهاک پر امریکا هم له دې کبله سختې نیوکې کړي چې امریکا هر کال اسراییلو ته په لویه کچه مالي او پوځي مرستې ورکوي، شاهاک وايي چې **دا مرستې د بشري حقونو او نړیوال قانون پر بنسټ باید ودرول شي.** نومړي په امریکا، له دې کبله هم نیوکې کولې چې **«امریکایي چارواکي په نورو هېوادونو کې د بشري حقونو سرغړونو مخالفت کوي او غندي يې خو د اسراییلو په تړاؤ ډېر نرم دریځ نیسي.»**
استاد شاهاک د فلسطینیانو پر وړاندې د اسراییلو تېری‌کوونکي کړنې سختې غندلې، شاهاک په دې ګروهه ؤ چې «له اسراییلو څخه د امریکا ملاتړ په منځنی ختیځ کې دا ناوړه حالت لاپسې اوږدوي.»
هغه لیکلي چې **په امریکا کې ځینې سیاسي او مذهبي ډلو (د اسراییلو ملاتړ) د خپل داخلي سیاست مهمه برخه ګرځولې ده.**

ښکاري چې استاد شاهاک د یهودو د دیني خرافاتو له امله اړ شوی، د یهودو له دیني ګروهې تېر شي، ده په اسراییلو کې د یو سیکولر دولت د رامنځ ته کولو په لاره کې هڅې او کوښښونه کول چې د هغه دریځونو او سیاسي څرګندونو، ده ته ډېر دښمنان راوپارول او د دې لامل شوې چې نوموړی په ډېرو بدو نومونو یاد شي. تر دې چې استاد شاهاک ډېر ځله **«د اسراییلو لهٔخوا د (لاړو توکولو) سره مخ کیده او څو، څو ځله د مرګ ګواښونه هم ورته شوي دي.»**[10]

شاهاک د اسراییلو لهٔخوا په بېلابېلو نومونو لکه:**«اسراییلي ضد کس؛ له ځانه متنفر یهودی؛ خاین او د خلکو دښمن په نومونو ښکنځل شوی دی.»**[11]

---

[6]: د یهودي خاخامانو د پورته یادو شویو لنډو فتواګانو پوره تفصیل د لیکنو په (ځانګړي برخه) او نورو پاڼو کې ولولئ.
[7] https://www.wrmea.org/2001-august-september/in-memoriam-israel-shahak-1933-2001.html
[8] https://www.theguardian.com/commentisfree/belief/2009/may/16/israel-shahak-orthodox
[9] https://www.nationalreview.com/2006/09/war-jews-emanuele-ottolenghi/
[10] https://www.theguardian.com/news/2001/jul/06/guardianobituaries.physicalsciences
[11] https://www.haaretz.com/scourge-of-everyone-1.63252


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پروفیسور شاهاک چي د فلسطینیانو پر خاوره د اسراییلو د نویو ښارګوټو جوړولو مخالف ؤ نو په غبرګون کي «د لوېدیځي غاړي د هبرون ښار څینو ښارګوټمېشتو اسراییلو تر دي برېده له هغه کرکه کوله چي په ۱۹۷۱ز. کال کي یي پر خپلو موټرو داسي جملي لیکلي وې: **«ډاکټر شاهاک د دار پر لور.»**[12]

پروفیسور شاهاک د نورو څرکندونو تر څنګ، سولي ته د رسیدلو یوازېنۍ لاره د اسراییلو او عربو ترمنځ د مساوي حقونو پلي کول بولي، هغه لیکي: **... موږ نه شو کولی د څواک او زور له لاري خپل امنیت ویږرو، یوازي د مساوي حقونو له لاري کولي شو سولي ته ورسیږو... او په دي تکي ټینګار کوم چي عربو ته باید خپل هېواد ته د راتللو اجازه ورکړل شي چي د دوی بنسټیز او انساني حق دی، زه کوم ارباب نه یم چي دوی ته د بېرته راتللو اجازه ورکړم، بلکي د هغوی سره یو برابر انسان یم او د دوی د برابری غوښتونکی هم یم ... .»**[13]

دغه زړهور یهودتوکمه منتقد، پروفیسور استاد اسراییل شاهاک، د ۲۰۰۱ز. کال په جولای کي وفات شو. د شاهاک مړینه د ده د دښمنانو لپاره د نیوکو او د خواخوږو لپاره د ستر درناوي سبب شو. د هغه خواخوږو استاد شاهاک، یو ستر انسانپال شخصیت، د بشر خدمتکوونکی، بېساری او اصل انسان، فیلسوف او څینو عیسویانو او یهودانو بیا د پېغمبری مقام ورکړی دی.

امریکایی لیکوال، سیاسي فعال او د امریکا او اسراییلو منتقد، (ګور ویدال) وویل چي شاهاک **«له وروستیو سترو پیغمبرانو څخه ؤ.»** په دي مانا چي هغه د ټولني پر مدني قانون د دین د اغېز په اړه ژور نظر درلود.[14]

د امریکا د یهودي شورا استازي (آلن سي. براونفلد) هغه یو انسانپالی وباله چي په هره بنه او هر هېواد کي له نژادپالني او ظلم سره فعاله مبارزه کوله، ویې ویل: **شاهاک یو رښتینی یهودی پیغمبرانه غږ درلود،** داسي غږ چي په توده مینه یي د ډیموکراسی او بشري حقونو ملاتړ کاوه.[15]

نېټه:۱۴۰۴/۱۲/۶ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اخېر نوري لیکني په دی لینک کي ولولی.

---

[12] http://jps.ucpress.edu/content/1/4/59.full.pdf

[13]: موشه منوهین: منتقدان یهودي صهیونیسم: فارسي ژباړه: وازریک درساهاګیان.۶۶مخ

[14] https://books.google.com/books?id=avh6dkSop0EC&pg=PA1

[15] http://www.wrmea.com/archives/october01/0110071.html



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ